# باید د قرآن د ترتیل او تطبیق تر منځ واټن له منځه یوسو!

نن سبا هر لور ته د روژې د مبارکې میاشتې وړمې خورې دي. د شپې پر مهال له هرې کوڅې او د ښار له هرې برخې د الله سبحانه وتعالی د مبارک کتاب د تلاوت انګازې تر غوږو کیږي. چېرته تراویح او چېرته هم قیام اللیل دوام لري. د فرضي لمونځونو پرمهال هر مسلمان د مسجد لور ته په بیړه روان وي. هر سړی د فرض لمونځونو ترڅنګ سنت لمونځونه هم بشپړ ادا کوي. آن لا په فرضو او سنتو بسنه نه کوي او هر څوک تر خپله وسه نفلو لمونځونو ته هم اړم وي. هر کس لږ تر لږه په روژه کې یو ځل د قرآن کریم ختم ترسره کوي. د دې تر څنګ په هر مسجد کې قاریان او حفاظ یا په تراویح او یا قیام اللیل لمونځونو کې د قرآن کریم ختمونه کوي او …

راځئ وپوښتو؛

آیا کله چې تاسو په قرآن کې د حکم او حکومت آیتونه تلاوت کوی کوم احساس درته پیدا کیږي؟!

آیا له کفارو سره د دوستۍ د تحریم د آیتونو پر مهال مو اوسنی حالت تصور کړی، چې زموږ او کفارو اړیکې څنګه دي؟!

آیا کله چې د نړیوالو اړیکو په اړه آیتونه تلاوت کوئ، د اسلامي امت او کفري دولتونو اړیکې څنګه ارزوئ؟!

آیا کله چې د قصاص، زنا، قذف، قطاع الطریق، شراب څښلو حدودو او نورو ګناهونو جزایي احکام په قرآن کې تلاوت کوئ، په اوسني سیاسي نظام کې د هغه نشتوالی نه احساسوئ؟!

کله چې د اجتماعي نظام په برخه کې د نر او ښځې د اړیکو د تنظیم، حجاب، تبرج، نکاح، طلاق، غض البصر او … احکام تلاوت کوئ، خپلې خویندې، میندې په ښوونځیو، پوهنتونونو، دولتي ادارو او نور ټولنیز حالت مو سترګو ته درېدلئ؟!

کله چې د جهاد، فتحې، غنیمت، فئ، غلامانو او وینځو آیتونه لولئ، څه فکر کوئ، چې دا هرڅه د الله او رسول العیاذ بالله ادبي تخیل دی او که دا ټول احکام منسوخ شوي دي؟!

او حتماً له دې آیت شریف سره هم مخ شوي یاست، چې سود ته پکې له الله سبحانه وتعالی سره جګړه ویل شوې. آیا ستاسو په مسجدونو کې د منبرونو او محرابونو تر منځ د سودي بانکونو اعلانونه نه دي راځوړند؟! آیا ستاسو د مسجدونو په څېر په هره محله کې د سودي بانکونو (له الله سره د جګړې د مرکزونو) شعبې نشته؟!

او …

الله سبحانه وتعالی په قرآن کې فرمایي:

**مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ**
[٦٢:٥]

د هغو کسانو بېلګه چې تورات یې واخیست، مګر بیا یې هغه حمل (عمل یې پرې ونکړ او د هغه حق یې ادا) نکړ، د هغه خره په څېر ده چې کتابونه وړي (مګر د هغو له منځپانګې خبر نه لري). هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی آیتونه تکذیبوي، تر ټولو بد مثال لري. الله متعال ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

سره له دې چې ځینې به ووایي چې دا آیت شریف د بني اسرآئیلو په اړه دی، مګر آیا عبرت یې د ټولو لپاره عام نه دی؟! آیا د بني اسرائیلو په څېر د تورات پر ځای موږ ته قرآن نه دی را پاتې؟! آیا هغه موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په واسطه تر

موره په حقه نه دی را رسول شوی؟! آیا موږ د قرآن د پورتنیو احکامو څرګند مخاطبین نه یو؟! آیا پورته ټول احکام د قرآن د لفظ د تلاوت، د هغه د حفظ، حسن قرائت او مسابقو له لارې پلي کېدای شي؟! او که دولت او نظام ته اړتیا لري چې په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، تعلیمي، کورني او بهرني سیاست کې یې پلي کړي. آیا دغه نظام ډیموکراسي یا جمهوریت دی؟! او که اسلامي نظام (خلافت)؟!

راشئ له احساساتي چلند پرته پورتنۍ ناوړه واقعیت ژور درک کړئ، په اړه یې فکر وکړئ، چې د دغه ناوړه واقعیت پر وړاندې زموږ فردي او زموږ ټولیز مکلفیت څه دی؟! آیا صحابه زموږ په څېر انسانان نه وو؟! آیا هغوی د دغه مکلفیت پر وړاندې څه وکړل؟! څنګه یې لومړئ د یوې فکري او سیاسي ډلې په توګه ظهور وکړ؟! ورپسې یې د ټولنې له حاکمو عامه افکارو، قوانینو او رواجونو سره فکري او سیاسي مبارزه وکړه، ترڅو د اسلام په ګټه عامه فکر، ملاتړي احساسات یې رامنځ ته کړل. د ټولنې واکمن قشر (اهل قدرت) ته یې دعوت ورکړ، چې بالاخره د مدینې اکثره مشران دې ته چمتو شول چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د عقبې دویم بیعت ترسره کړي او د اسلامي نظام لومړنۍ هسته و زیږوي. آیا په ټولنه کې د بدلون لپاره همدغه نمونه زموږ لپاره کافي نه ده؟!

آیا اوسنی ناوړه واقعیت اصلاح ته اړتیا لري او که ژور او بنسټیز بدلون ته؟! له شک پرته کله چې یو څه فاسد شي، د هغه اصلاح په کار ده، اما کله چې یو څه اساساً بدل شوي وي، نو اړینه ده چې باید له بنسټه بدل کړل شي. له هغه مهاله چې پر اسلامي خاوره باندې د خلافت دولت نړېدلی، پرځای یې کفري دولتونه حاکم شوي دي. نو دغه واقعیت د اصلاح وړ نه بلکې د ژور بدلون وړ دی. ترڅو پر اسلامي خاوره واکمن شاهي، جمهوري او دیکتاتوري سېکولر نظامونه له بېخه و نړوو، اوسنی نړیوال نظم رد کړو او پر ځای یې له سره اسلامي نظام تاسیس کړو او پر مټ یې نوي نړیوال نظم ته لاره برابره کړو. هغه مهال کولی شو، د قرآن پورتنیو غوښتنو ته ځواب ووایو.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي:

**إنا صعُب علينا حِفظُ ألفاظِ القرآن، وسهُل علينا العملُ به، وإن مَنْ بعدَنا يسهُل عليهم الحفظُ، ويصعُب عليهم العملُ به.**

د قرآن د الفاظو حفظ پر موږ سخت شوی دی، اما عمل ورباندې آسانه شوی دی او هغه کسان چې له موږ وروسته راځي؛ دوی ته د قرآن حفظ کول آسانه کیږي او عمل ورباندې سختیږي.

وګورئ او غور وکړئ، چې آیا د اسلام په طلایي دور کې مسلمانانو دار الحفاظونه، مدرسې، د حسن قرائت او حفظ مسابقې جوړولې او که یې قرآن د نظام او دولت په اډانه کې بشپړ عملي کاوه او د دعوت او جهاد له لارې یې نړیوالو ته رساوه؟! آیا زموږ اوسني خاین، فاسق او ظالم چارواکي هر روا او ناروا مجلس د قرآن کریم په آیتونو نه پرانیزي؟! آیا د الله د شریعت پر ځای د قانون جوړوونکو مجلس (پارلمان) د قرآن کریم د آیتونو په تلاوت پرانستل نشو؟! او ...

تاسو وینئ چې دا ټول چارواکي او حکام د قرآن او شریعت پر وړاندې دسیسه کوي او له کفارو سره یې یو ځای د قرآن د حاکمیت پر وړاندې نړیواله جګړه روانه کړې ده. دوی ټول د مدارسو، دارالحفاظونو او قرآني مسابقو هڅې ستایي او خپله هم پکې برخه اخلي. اکثره مسلمانان د قرآن په ترتیل او تلاوت ډېر ښه بلد دي. مګر له تطبیق څخه یې واټن ډېر زیات دی. راځئ راپاڅو د قرآن د ترتیل او تطبیق تر منځ فاصله رالنډه کړو، څه چې په ترتیل تلاوت کوو، د هغو د تطبیق لپاره متې را بډوهو او هغه اسلامي نظام یو ځل بیا تاسیس کړو چې د دغه قرآن ټولو اوامرو او نواهیو ته ژمنتیا ولري، پر موږ اسلام تطبیق او نورو نړیوالو ته یې د دعوت او جهاد له لارې ورسوي.

**سیف الله مستنیر**

د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس